DAILY
اراده
داطفان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۱۵۵
شماره مسلسل ۱۰۲۱
دوشنبه۵ سرطان۱۳۸۵ هـ ش
۲۹ جمادی الاول ۱۴۲۷ هـ ق
26 June, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

کرزي په یوه ځانګړي ناسته کې امنیتي لاربونې وکړې



تېره ورځ ولسمشر حامد کرزي د دولت د دفاع اوکورنیو چارو د وزیرانو ، د ملي امنیت د سلاکار ، د ملي امنیت د مشر او د ایساف او ائتلاف له سترو قوماندانانو سره په یوه ځانګړې ناسته کې په هېواد کې د امنیتي وضعې د ښه کولو په موخه خبرې او لاربښوونې وکړې ، کرزي اړونده چارواکو ته لاربښوونه وکړه چې ائتلاف او ایساف د ملي اردو او ملي پولیسو سره په هم غږې د دولت د مخالفینو په مورچلو خپل بریدونه وکړي. ۴ مخ

نشست مشترک میان نماینده گان کابل درولسی جرګه وشورای ولایتی کابل برګزار شد

دیروز نشست مشترک میان شماری ازنماینده گان کابل درولسی جرګه ونماینده گان شورای ولایتی کابل درمقر ولسی جرګه برګزار شد . هدف این نشست آوردن تعدیلات درقانون شوراهای ولایتی گفته شده است. مولوی حبیب الله رئیس شورای ولایتی کابل گفت قانون فعلی شوراها نیاز به بازنگری اساسی دارد وبه قانون موجوده کارایی شوراهای ولایتی برای مردم قابل لمس نخواهد بود. ص۴



ظاهر عظیمی: طالبان در صورت ادامه جنگ نابود خواهند شد



وزارت دفاع ملی جنگجویان وابسته به گروه طالبان را هوشدار داده است که اگر دست ازجنگ نکشند نابود خواهند شد .

این هوشدار پس ازآن صورت میگیرد که وزارت دفاع ملی دو روز قبل اعلام کرده که عملیات یورش کوهستان مواضع گروه طالبان را درچندین منطقه درهم شکسته است .

سخنگوی وزارت دفاع ملی میگوید که با وارد شدن عملیات یورش کوهستان درمرحله جدید به شورشیان وابسته به طالبان مهلت داده نخواهد شد تا به فعالیت های تخریبی خود ادامه دهند.

بربنیاد آمار دهی این وزارت درعملیات یورش کوهستان که از دو هفته پیش برای ردیابی شورشیان وابسته به گروه طالبان والقاعده در ولایت های جنوب وجنوب شرقی آغاز شده است تاکنون ۱۵۰ جنگجوی طالب کشته شدند ودرنتیجه تازه ترین دور این حملات در سرمرغاب ولایت ارزگان ۲۲ طالب کشته و ۱۸ تن دیگر زخمی شده اند.

سرمقاله

خدا خودش بهتر میداند!

وضع دشواری که ازجهات کنونی در درون دستگاه دولت وجود دارد برکمتر کسی پوشیده میتواند بود، زیرا آنچه دردیگ است درکفگیر است ، اما تعجب آوراینکه بعضی از وزرای کابینهء افغانستان وقتی آرزوهای شان به سر رسید وبا کرسی های کابینه وداع کردند، یا درخارج ازقلمرو افغانستان به افشا ویا تذکار مطالبی میپردازند که بیشتر خرسوار گذشتن از زیر ریش مردم است و نشان دادن به دیگران که گویا ازآنچه در دستگاه های دولت که به اصطلاح آقای احمدزی فاسد میگذرد، مطلع است .

درحالیکه مردم خوب میدانند که از آغاز ادارهء موقت ، طراحان ودست اندرکاران وکارکنان داخل اداره، سنگ بنای این اداره را چنان «کج و کوله »گذاشته اند که راست شدن آن تنها بدست خداست !

مردم میدانند که فساداداری ازهمان زمان دورهء موقت نه تنها درادارهء دولت ، بلکه د ر وزارت مالیه تا کدام سرحد بود وبه کجا میرسید که درنتیجه مایهء اختلاف میان اوشان و رئیس جمهور شد وبه استعفای شان منجر گردید، همین بهتر که از خطوط سرخ عبور نکنیم،

پرسش اینست که آیا اینهمه ناهنجاریها و نارضایتی های مردم از لوایح ومقررات تدوین شده دروزارت مالیه ومحدودیت معاشات کارکنان و سایر کمبودیها دردستگاه دولت موضوعاتی نیست که درهمین یکسال شگفته باشد.

جناب شان به حیث یک دانشمند ویک وزیر آگاه درمسایل گوناگون درکنار آقای رئیس جمهور، کدام مشورهء سازنده را به رئیس جمهور داده اند که جلو اینهمه فساد را که طی یکی دو سال دیگر چندین برابر شده ، بگیرد؟!

این شما تنها وزیر دورشده از کابینهء دولت نیستید، آقای جلالی هم تاوقتیکه درکرسی وزارت داخله قرار داشت، لست مافیای مواد مخدر را که به قول خودشان در دولت کار میکردند، پنهان کرد و سردر خط مصلحتها وملحوظ پرستی دولت نهاد و گذاشت که کشتی مملکت را آب به غرقاب فنارهنمون شود. ص۴

د پنجوایی په ولسوالی کې اته څلویښت مخالفین وژل شوی

دهیواد په جنوبی ولایتونو کی ملی اردو او نړیوال ائتلافی خواکونه دخپله پوځی عملیاتو په ترڅ کی له نوو لاس راوړنو څخه خبر ورکوی.

دکندهار د ۲۰۵ نمبر اتل قول اردو قوماندان جنرال رحمت الله روفی وویل چې له تیرو دوو ورځو راهیسی دپنجوایی په ولسوالی کی ددوی دعملیاتو له امله ددولت ۴۸ تنه مخالفین وژل شوی دی. ۴مخ



دهرات والي په رسنیو تورلګولی

دهرات والی په ازادو ډلیزو رسنیو تور لګولی چې د دولت دمخالفینو په ګټه خپرونی کوی.

نوموړی وایی چې ډلیزو رسنیو دافغانستان او دافغان ملت په وړاندی خپل رسالت له پام غورځولی دی او له همدی امله په هیواد کې امنیتی وضع کړکیچنه شوی ده .

در زابل دو طالب کشته و سه مظنون بازداشت شد

براساس گزارش های رسیده از ولایت زابل نیروهای امنیتی آن ولایت درجریان عملیات تصفیوی دو طالب و سه فرد مظنون را بازداشت کردند.

محمدظریف ولسوال نوبهار گفت: دو تن طالب پس ازیک برخورد با نیروهای امنیتی درقریه کلاخان همراه با دومیل کلاشینکوف ودوپایه مخابره دستگیر شدند. ص۴

تقاضای ایجاد صندوق مالی برای پناه گزینان افغانی در پاکستان



اسلام آباد ازکابل خواسته است تا یک صندوق جداگانه مالی را برای آن پناه گزینان افغانی که درپاکستان بسر میبرند ایجاد نماید . تا این پناه گزینان با استفاده از این صندوق بتوانند به افغانستان بازگردند.

وزیر خارجه پاکستان درگفتگوی با رسانه ها گفته است که بازگشت بیشتر از دومیلیون پناه گزین افغان سبب خواهد شد تا مخفی گاه های که در اردوگاه های پناه گزینان برای جنگجویان طالب گزینان برای جنگجویان طالب فراهم شده است از میان ببرند.

سخنگوی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد درامور پناهندگان میگوید! به هر اندازه که پیشرفت درافغانستان صورت گیرد به همان اندازه روند عودت پناهندگان افغان از پاکستان ودیگر کشورها سریع خواهد شد . ص۴

خط استعماری دیورند یکی از عوامل عمدهء تشنج منطقه است

ص۲

په افغانستان کې د غرب پر ضد احساسات مخ په پیریدو دي، ځکه سیاست خپل چانسونه د لاسه ورکوي

ص۲

د مالیاتو د ورکړې نه تیښته مه کوی.

۳ مخ

په افغانستان کې د غرب پر ضد احساسات مخ پر ډیریدو دي ، ځکه سیاست خپل چانسونه د لاسه ورکوي

د ډاکټر عبدالباري ژباړه



څرنګه چې دا ګړی د افغانستان په هکله بد خبرونه ډیر شویدي، نوبده به نه وي چې په یوه بنه خبر یې پیل کړو. هغه داچی دغه هیواد اوس یو پارلمان لري چې سم کار کوي. که څه هم د وکیلانو په مینځ کې ځینې انتقادونه موجوددي، خوسره لدی هم په شورا کې دوکیلانو تر مینځ انتقادونه شته اوهم په شورا باندی دخلکو له خوا انتقادونه شته خو په دی وروستیو کې خبرونه خواشینونکي دي. دهیواد په جنوب کې طالبان اوس دونه زور لري چې تر اوسه یې ساری نه و، داسې ورځ نه وي چې دوی دي د امریکې تر مشرتابه لاندې نظامي ائتلاف سره خونړی جګړې ونه کړي. د اروپا " فکري کارخانې" یعنې د سنلیس جرګې چې د مخدره موادو دسیاست په هکله مهارت لري، دافغانستان په جنوبي ولایتونو کې حالات بحراني بولي او وایي چې اوس خلك د طالبانو تر شا دمخدره مواد و کرپه خاطر ولاړ دي. د زور او خشم لمن اوس کرارکرار هغو سیمو ته ورغزیږي، چې تر اوسه په نسبي توګه په امن کې وي. هو، یو سؤ قصد دلته ، یوه حمله هلته، دا خو جنګ نه دی،پراخ سیمه ییز اوربل خو بیا بیخي نه دی. خو تقریباً هره ورځ وینې بهیږي. هلته په شمال کې چې تر اوسه لا یو څه په امن کې ګڼل کیږي او د جرمني قواوي هم پکښې ځای پر ځای شوي دي،هم دغه حال دی. خواشینونکې لادا ده چې اوس ځانمرګي بریدونه موډ شوي دي. پروسې کال په ټول کال ۱۱ دغسې بریدونه شوي وو، سږ کال تر اوسه له ۲۷ زیات بریده شمیرل شوي دي. او بالآخره څه موده دمخه په کابل کې اړ و دوړ پیښې شوچې ممکن ۲۰ کسه به پکښې وژل شوي وي. دغه اړودوړ هغه مهال را پیښ شو چې د امریکایي ځواکونود یوې لارې د ټکر له امله مرګ او ژوبله پیښه شوه او ورسره سم خلکو په بلوا لاس پورې کړ. د ۲۰۰۱ کال را وروسته دغه د لویدیز پر ضد تر ټولو لویه نا آرامي وه. په کابل کې د جرمني د فریدریش ایبیرت د مؤسسې استازي رولف پاش وایي چې " دغې پیښې په افغانانو کې د ژوري ناامنۍ احساس را مینځ ته کړی دی، ډیرخلك وایي چې بیا هغه پخوانۍ کیسې شروع شوې؟ او پوښتنې چې اوس به مو څوک امنیت تینګوي؟"

د ځایي کتونکودخولې، د کابل په دغه اړودوړکې اکثره ځوانکیان را پاریدلي و و چې ډبري یې ویشتلې. د هیواد دنفوسو په سل کې ۵۷ سن تر ۱۸ کلونو لږ دی ، په دې مانا چې افغانستان په نړۍ کې تر ټولوهیوادونو ځوان نفوس لري. دغه نسل د هغو بنو ځوانیو او مرستو چې د بیا جوړونې په اړوند وعدې ورسره شوي وې، حتا پنځو کلونوروسته یې اثر لاهم نه دی لیدلی. افغانستان په عمومي توګه د ډیرو غریبو هیوادونو څخه شمیرل کیږي. د ملګرو ملتونود بشري ودی په رپوټ کې دغه هیواد په نړۍ کې د ۱۷۸ هیوادونو څخه تقریباً ۱۷۳ هیواد دی. تقریباً نو په دې خاطر چې افغانستان او سومالیه د نړۍ پر مخ یوازني هیوادونه دي چې د ملګرو ملتونو داحصائیې لپاره په دغه اړوندلازم اعداد او ارقام نه شي وړاندې کولای، نو ځکه یې د لیست په پای کې راوستلې دي.

خو سره ددې هم د نړیوال وجهي صندوق (IMF) دشمیرنې له مخې د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۲ کلونو په موده کې ټول (ناخالص) ملي عاید په سل کې ۱۷ وده کړې ده. هو دغه شمیرنه د نشیي موادو د کاروبار دغُرابي ارقامو څخه تصفیه شوي ده، خو دغه اقتصادي معجزه د جنګ وروسته وختونو ګټه ده. وجهي صندوق دغه پام را اړوي چې د هیواد اقتصادي منابع دومره قوي نه دي چې اقتصادي وده په دغه کچه وساتلای شي. اوغربت لږ کړلای شي. په افغانانو کې دغه احساس ډیریږي چې هغه په ملیارډونو (ډالرونه) چې لویدیز د مرستې ژمنه ورسره کړې وه، یا لویدیز یوازی دوی دغه میرانه کړېده او دانور (هیوادونه) یوازې پر خپلو غربیانوباندې اعتماد لري، که څه هم دوی په دې کار کې د یادونې وړدلیل نه لري. د دې غلط سیاست په اړوند یو بل مثال هم د امنیت مرکزي مسئله ده. د افغان ملي اردو (ANA) د جوړولو د پاره، چې لوی بار یې هم د امریکا متحدو ایالتونو پر غاړه اخیستی دی اویا زره ۷۰۰۰۰ سرتیري په پلان کې نیولي دي، د بنوونې او روزنې څخه یې نیولې تر تمویل پورې هر څه په پلان کې په نظر کې نیول شویدي چې په نتیجه کې د افغانستان دولت ته ډیره ګرانه اردو لویدلې ده. نړیوال بانک چې حساب کړی دی، د دې هیواد د ټول داخلي تولید په سل کې ۱۳ به په دغه اردو خوړل کیږي. اوس د امریکې متحدو ایالتونو ویلي دي چې غواړي د دې ملي اردو د جوړولو کار یو څه کرار کړي. البته د لګښتونو په خاطر هم! د امریکا د دفاع وزیر ډونالډ رومسفیلډ په کابل کې حکومت ته خبر ورکړی دی چې په ۲۰۰۷/۲۰۰۲ بودجوي کال به د اردو معاشونه له خپله جیبه ورکوي. خو دخندا وړ خبره دا ده چې دغه معاشونه او لګښتونه پخپله د امریکې د متحدو ایالتونو له خوا ټاکل شویدي.

په دې ډول سره ویلای شو چې د افغانانو د ناراضي کیدلو علتونه ډیر دي چې دغه ټول علتونه د دولت او لویدیځوالوپه مقابل کې ددوی د نفرت او مقاومت سبب ګرزي.

پیرسته به ګڼشت

خط استعماری دیورند یکی از عوامل عمده تشنج منطقه است

آکادمیسین دستگیر پنجشیری

هرچند اسدالله سروری ، سید محمد کلابزوی ، محمد اسلم وطنجار سه تن از طرفداران نورمحمد تره کی در مرحله حضور نظامی شوروی براساس انگیزه های انتقامجویی ، کسب قدرت سیاسی و تلافی شکست های ، یک بخش فرکسیون خلق ، حاکمیت ح.د.خ.ا. را یکجا با فرکسیون پرچم برهبری کارمل تمثیل کردند ، اما دولت نظامی پاکستان از همان صبح فردای ۶ جدی ۱۳۵۸ در خط اول جبهه ضد شوروی و ضد حاکمیت ح.د.خ.ا. قرار گرفت. و در عمل بصدور ضد انقلاب پرداخت . و با استفاده از هوا و فضای بین المللی و امارات کشورهای عربی و خلیج بفکر خام دخالت و مداخله نفوذ و سلطهٔ افزار های سیاسی خود به افغانستان شد.بعد از عودت قطعات شوروی و تغییر در پیچ و مهره های حاکمیت ح.د.خ.ا. و در شرایط پیدایی گرایشهای نوین در سیاست خارجی گرباچف و تسلط تفکر نوین سیاسی در کشور شوراها دوکتور نجیب الله برای حل مسایل مورد اختلاف فعالانه تلاش ورزید. از جمله با رهبران تنظیمهای با نفوذ ، حزب اسلامی ، جمیعت اسلامی ، با فرمانده احمدشاه مسعود در داخل ، با غلام اسحق خان رئیس جمهور پاکستان و اعضای خانواده بینظیر بوتو و لوی درستیز اسلم بیگ بشکلی از اشکال تماسها و پیوندهای پنهانی و پشت پرده برقرار کرد. از آنجا که تلاش های داکتر نجیب دور از نظر اکثریت رهبران حزبی و فرماندهان قوای مسلح و مردم کشور بصورت ، مرموز، و سری انجام می یافت او نیز قربانی اشتباهات تاریخی تک روانه زیرکانه و عظمت طلبانه ملی و قربان سیاست جهانی و منطقه یی خویش گردید. و سرانجام بدام نیروهای مسلح دشمن افتید. (۱۳) و بدون محاکمه تیرباران شد.بهنگام انتقال داوطلبانه قدرت سیاسی از سوی رهبران حزب وطن برهبران تنظیمهای تندرو، کندرو ، میانه رو و بویژه در سال ۱۹۹۳ و صدمین سال انقضای میعاد قرارداد استعماری دیورند ، بعلل دخالت و مداخلهٔ آشکار میراث خوران استعمار ، پادو های منطقه یی آنان بازهم مناسبات سیاسی افغانستان و پاکستان عادی نشد و مساله حق خود ارادیت پشتونهای آنسوی خط استعماری دیورند راه حل دموکراتیک و عادلانه یافته نتوانست. در حال حاضر نیز استقلال ملی ، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی کشور ما مورد تهاجم افزارهای منطقه یی سرمایه سالاران و صاحبان صنایع جنگی جهان غرب قرار گرفته است. اما باور تزلزل ناپذیر دارم که قدرتهای طرفدار تعصب ، تحجر و توحش هرگز با اربابان غربی . عربی و پاکستانی خود را ازطریق نظامی بسرمنزل مقصود رسانیده نخواهند توانست. برعکس عقل سلیم حکم میکند که راه حل نظامی مسایل مورد اختلاف افغانستان و پاکستان فاقد دورنما و آینده روشن است. فقط حل صلح آمیز مساله یگانه راه صحیح ، اصولی ، عادلانه و دموکراتیک است و این راه حل منطبق ، به منافع و مصالح خلقهای پشتونخوا ، بلوچستان ، افغانستان ، ایران ، پاکستان و دیگر کشور های ایکو ، منطقه و جهان ما میباشد. اندیشه های صلح ، دموکراسی ، ترقی اجتماعی پیروز میشود و بزرگترین افتخار مدافعان گران و تجاوز کاران بزرگترین خجلت و شرمساری تاریخی برای اربابان استکباری آنان خواهد بود.

ص۳

دمالیاتو دورکړی نه تینبته مه کوی!

عبدالظاهر سنت یار

له دی نه انکارنه شو کولای چی هیواد یوبیوزلی او فقیر هیوادی لاتراوسه پوری یی نه کانی مواد راسیړل شوی اونه دومره فابریکی لری چی دهیواد اقتصادی ستنی وربانډی پرپښوو دروی. که په تیرو وختونو کی یی څه در لودل هغه څه کم دیرش کلنی جګړی ترینه واخیستل او دوی یی لاپسی بدمرغه کړل. خو کوم شی چی په دغه غریب او بیوزلی هیوادکی زیات لیدل کیږی هغه دګاډواو ډرادو ګنه ګونه ده چی دجنګ په اوږدوکی یی لادو مره وده نه وه کړی او نن ورځ دافغانستان دوګروپه پرتله دګاډواندازه هم کمه نه ده .

کوم شی چی دزیاتی اندیښنی او پاملرنی وړ ګرځیدلی شی هغه دبیت المال موضوع ده چی دبل هر وخت نه باید ورته زیاته پاملرنه را واړول شی. په دومره وخت کی دواړاتی مالونو دمحصول نه هم ناوړی ګټی ترلاسه کیږی. او دحق العبور پیسی چی هره ورځ په زرګونه ګاډی دهیواد دلویو لارونه نه تیریږی بیت المال ته په خوړوکی مالګه هم نه رسیږی او په هر وخت او هر حکومت کی دډیروجیبونو ته اچول شوی دی.

همدغه لامل دی چی نن ورځ زمونږ اقتصاد پرتپه دریدلی او بهرنیانوته مو دتمی لاسونه ور غزولی دی.

دملی سوداګرو هغه مالونه چی له باندینیو هیواد ونو څخه زمونږ هیواد ته واردیږی په دی کی هم دزیاتو ملی سوداګرو سره دموراو میری سلوك کیږی له چانه په هر ولایت کی پیسی اخیستل کیږی او چاته سون قدرهم نه ویل کیږی اوله هر ولایت نه سری ستړګی تیریږی.

یوبل شی چی دزیاتی پاملرنی وړګرځیدلی شی هغه دملی بس دګاډودنګرانانو غیرانسانی چال چلند دی چی دټکټ دور کړی نه پرته له سپرلیونه پیسی را ټولیږی او بیاهم بیت المال ته هیڅ نه ورکول کیږی. داسی معلومیږی چی دغه ګاډی به ددوی په شخصی ملکیت پوری اړه لری او دډریور سره به دلاس په درلودلوسره دغه ورځنی عایدات په دری برخو ویشی چی یوه برخه به یی دریور، یوه به یی نګران او بله به یی بیت المال ته ورکول کیږی چی دنفتی موادو لګښت او داستهلاك پیسی به یی بیاهم دهمدغه او بلن اقتصاد له لاری سراو صورت پیداکوی چی بیت المال ته به زیات تاوانونه رسیدلی وی. مورږ دغه راز ناروا عملونه په لاندینیو څوکربنوکی لنډولی شو. دپخواپه څیردی ددغو ښاری سرویسونو دخط السیر په اوږدوکی پلټونکی وګومارل شی چی له سپرلیو څخه دټکټ په برخه کی پوښتنه وکړی چی ایا د خپلو پیسو په ورکړه کی ټکټ ترلاسه کړی او که پیسی دنګران جیب ته لویدلی دی.

دحق العبور ځانګی دی دلویو لارو په اوږدوکی په کارواچول شی چی دمراعت نه پرته له هغو ګاډونه پیسی ترلاسه کړی چی په دغو لارو باندی تیریږی . خوداسی باید ونه شی چی دوی ته دی دپخوا په شان دچور او چپاو وسیلی برابری کړی بلکه باید ددوی دورځینو فعالیتونو څارنه وشی ترڅو ددوی شخصی جیبونو ته ونه لویږی.

دمالونو دمحصولونو له پاره دی په حکومتی بندرونو کی امین ، صادق او پرهیزګاره کسان وګومارل شی ، ترڅو دعیش ونوش پرځای دهیواد دبیوزلی په نظرکی ونیسی او دخپل بیت المال وضع په زړه سوی باندی پرپښو ودروی.

که چیری دغه او دی ته ورته دندی په زړه سوی باندی سرته رسیږی نوله شك نه پرته به زمونږ کمزوری اقتصاد هم پریښو دریدلی وی او زیاتو ضرورتونو ته به یی ځوابونه هم ویلی وی او که چیری داسی وی؛چی به باد امد وبه باد رفت ، نو بیا دی ددغه بیت المال هم خدای مل شی چی په چاړه وتړی او پرچا باندی پرپښو ودریږی.

خط استعماری دیورند یکی از عوامل عمدهٔ ...

از تمام این رویداد های تاریخی باین نتیجه منطقی میتوان دست یافت که : محافل حاکمه افغانستان بمسئله پشتونستان تا آن حدودی علاقه می گرفته اند که به دوام و بقای حاکمیت آنان مساعدتی میتوانسته است. بیست و پنج سال جار و جنجال های تبلیغاتی حکومت افغانستان بویژه بعد از جنگ عمومی دوم جهانی ، بدون تردید بخاطر تامین همین اهداف و مقاصد ضد ملی دشمنان خلق افغان صورت گرفته است

هیچگونه توجیهی دیگری شده نمیتواند. حکومات افغانستان بعد از دهه دموکراسی و مشروطیت جز در موارد معینی ، همواره سیاست انتظار ، ترصد ، دفع الوقت و حتی نهضت شکنی را در پیش داشته اند و بتاسی ازاین پالیسی سازش کارانه و تسلیم طلبانه خود ، از گسترش و توده یی شدن جنبش ملی و آزادی بخش پشتونها و بلوچهای آنسوی خط استعماری دیورند به شیوه های آشکار و پنهان جلوگیری میکرده اند. تکذیب ناپذیرترین دلایلی که ریاکاری محافل کهنه کار افغانستان را نسبت به نهضت ملی و آزادی بخش خلق پشتونخوا فاش و رسوا میکند عبارتست از :

اولاً : مساله پشتونستان در حلقه های رسمی و دولتی توسط عالیترین مقامات رهبری دولت تحت یک نوع نظارت پولیسی بصورت تشریفاتی طرح میگردید و در حقیقت طرح خام و نیم بند مساله پشتونستان در مقابل رشد همه جانبه و بنیادی جنبش ملی و انقلابی خلق پشتونخوا، موانع تازه ایجاد میکرد.

ثانیاً : طرح مساله پشتونستان در داخل افغانستان بشکلی صورت میگرفت که موجب تقویت مواضع مستبدین و محافل حاکمه مسلط فئودالی میشد و همچنان شرایط پیدایی و شیوع اندیشه ها و گرایشهای ناسالم عظمت طلبی ملی ، تفوق ملی ، استثنا طلبی ملی، جدایی ملی و خصومت ملی را فراهم می ساخت و در نتیجه چنین گرایش های ناسالم و تنگ نظرانه و تعقیب سیاست تبعیض در میان خلقهای افغانستان ستم ملی و اجتماعی تشدید می شد و شور شوق انقلابی اقلیتهای ملی و مذهبی در مقابل جنبش های ملی ـ انقلابی خلق پشتونخوا فروکش میکرد و برضد نهضت ملی خلق پشتون و بلوچ آن سوی خط استعماری دیورند گرایش میافت.

ثالثاً : خاندان سلطنتی افغانستان بخاطر نقب گذاری و بی اعتبار کردن نهضت همبستگی خلق های افغانستان و پشتونخوا و بلوچستان این مساله عمومی ملی را بطور عمده در انحصار وزارت قبایل و امور سرحدات ، سربراوردگان قبایل ، ، پاسداران نظامات قرون وسطایی و یک سخن در انحصار بیروکراسی فاسد ، و دست های ناپاک متنفذین بدنام وواپسگرا و یک تعداد از پیچ و مهره های افزار مزدور استعمار کهنه و نو قرار میداد و با این نیرنگ ها ووسایل کثیف ، نهضت ملی و آزادی بخش خلق پشتونخوا را بدنام میکرد. و مانع ابتکارات و اقدامات انقلابی تمام نیروهای ملی ، دموکراتیک و ترقیخواهان افغانستان میگردید. و این پالیسی نیرنگ دیگری بود که بدون تردید زمینه های نفوذ حضور و سلطه میراثخوران استعمار را دراین منطقه پرآشوب آسیا فراهم می ساخت. صحیح ترین و موثق ترین سندو دلیلی که این نتیجه گیریها را تائید میکند همانا داوری سالم ، صادقانه ، درد مندانه و افشاگرانه سید مسعود پوهنیار ، سابق قونسل افغانستان در کویته بلوچستان ووزیر امور سرحدات و قبایل دوران دهه قانون اساسی است. او بعد از پانرده سال کار زیر شعار پشتونستان بتجربه شخصی در زمینه مصارف هنگفت پول قضیه پشتونستان باین نتیجه منطقی و تکذیب ناپذیر رسیده اند که : « همه این پولها مانند فیرهای هوایی یک فیصدی آن به هدف پشتونستان اصابت نکرد و تماما بهدر رفت ... (۱۴)

همچنین پوهنیار با همه صراحت لهجه این واقعیت های تلخ تاریخ را افشا کرده است که : والیان قندهار ، ننگرهار، کنر ، پکتیا ، زابل با مدیران قبایل و قبایلی ها معاش خوار و قونسلگری های افغانی در کویته و پشاور از زمان بلند شدن شعار پشتونستان مخصوصا در زمان صدارت سردار محمد داود شدیداً در بودجه ریاست قبایل چون جوکهای خون چوش چسپیده بوده اند. »

رابعاً : اردوگاه صلح و سوسیالیزم همانروزگار بویژه دولت واژگون شده شوروی ، در تمام مراحل مبارزه حق طلبانه خلق پشتونخوا در سنگر دفاع از حق خود ارادیت ملل و مردمان پشتون و بلوچ آنسوی خط استعماری قرار داشته و در مجامع بین المللی ، از حل عادلانه و صلح آمیز قضیه پشتونستان ، خلاف ستراتیژی کشورهای امپریالستی پشتیبانی معنوی و سیاسی کرده است. در روشنی این همه دلایل و حقایق تاریخی اکنون می توان باین نتیجه گیری های صریح دست یافت که مورخان ، محققان ، تحلیل گران سیاسی ، دولتمردان و خاطره نویسان که تحت تاثیر فضای جنگ سرد ، میان سیاست خارجی دو ابر قدرت و دو اردو گاه سوسیالیزم وسرمایه داری علامت تساوی میگذارند در واقعیت امر آب به آسیاب صاحبان صنایع جنگی امریکا و اروپا می ریزند و از شناخت دقیق وواقعی، منافع ملی و از شناخت صحیح دوستان و دشمنان واقعی ملل و مردمان افغانستان ، پشتونخواه و بلوچستان و حتی پاکستان کاملا عاجز می باشند. در روشنی این حقایق و شناخت تعادل ، تناسب نوین قوا ، درعرصه بین المللی چنین پیش بینی تاریخی می توان کرد که در کشور ما و درمنطقه دیر یا زود مسابقات تسلیحاتی پایان خواهد یافت. پیمان منع انتشار سلاحهای هسته یی از سوی هند و پاکستان امضاء خواهد شد و دیوار های بلند بی اعتمادی فروخواهد ریخت. سیاست صلح و دوستی و همکاری متقابله ، جای سیاست جنگ ، تجاوز و تشنج را خواهد گرفت. همه مسایل مورد اختلاف و منازعات منطقه یی راه حل عادلانه و دموکراتیک خود را خواهد یافت و ملل و مردمان افغانستان ، پشتونخوا ، بلوچستان و پاکستان و تمام کشور های عضو ایکو در مسیر واحد رشد مستقل ، صلح ، دموکراسی ، همکاری اقتصادی و ترقی اجتماعی قرار خواهند گرفت. اصول همزیستی مسالمت آمیز ، تساوی حقوق ملل ، عدم مداخله و احترام متقابله ، زمینه های اعتماد همکاری متقابل و دوستی میان کشور های منطقه ما را مهیا خواهد کرد. بازار خرید و فروش مواد مخدر، جنگ افزار های مرگبار ، و تروریزم رونق کنونی خود را از دست خواهد داد و ملل و مردمان این منطقه جهان در فضای بی غبار صلح ، دوستی ، تفاهم ، همکاری ، اعتماد و احترام متقابل زندگی انسانی خواهند کرد.

××××××××××

(۱) میرمحمدصدیق فرهنگ ، افغانستان در پنج قرن اخیر جلد دوم ، ایران ، ص ۶۷۷ و ۶۶۹

(۲) خان عبدالغفارخان ، زما جد او جهد او ژوند ، کابل ، ص ۱۳۶۲ ، ص ۷۳۷ الی ۷۳۹

(۳) سالنامه افغانستان نگارش شعبه سوم وزارت امورخارجه افغانستان ، ص ۱۱۸ الی ۱۳۴

(۴) مناسبات افغانستان و شوروی از ۱۹۱۹ تا ۱۹۶۲ ص ۷۸ .

(۵) سالنامه ۱۳۳۹ افغانستان ، کابل ،ص ۲۷ و ۲۸.

(۶) سالنامه ۱۳۳۹ افغانستان ، کابل ص ۲۷۲ .

(۷) سالنامه ۱۳۴۰ افغانستان ، کابل ص ۲۱۶ تا ۲۲۴ .

(۸) سالنامه ۱۳۴۱ افغانستان ، کابل ص ۹۲ .

(۹) افغانستان د دموکراسی او جمهوریت په کلونوکی ۱۹۶۳ ـ ۱۹۷۸ لیک وال عبدالغفار فراهی ص ۲۱۰ ، ناشر دانش کتابتون چاپ دوم پشاور.

(۱۰) افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلونو کی ۱۹۶۳ ـ ۱۹۷۸ لیک وال عبدالغفار فراهی ص ۲۱۰ ، ناشر: دانش کتابتون ، چاپ دوم پشاور.

(۱۱) ا. هارون ، داود خان د کی جی بی په لوموکی ، پشاور ، ص ۱۱۴ .

(۱۲) دیگو کور دو ویز وسلیک هریسن ، حقایق پشت پرده تهاجم اتحادشوروی به افغانستان (ترجمه بزبان دری عبدالجبار ثابت) پشاور ؛ می ۱۹۹۶ ص ۲۶ ، ۲۷ .

(۱۳) دیگوکوردو ویز و سلیک هریسن ، حقایق پشت پرده تهاجم اتحادشوروی به افغانستان ، پشاور ؛ ص ۳ ، ۲۶ ، ۳۲ .

(۱۴) دکتر نجیب الله ، نامهٔ اشد محرم به میخائیل گرباچف (ترجمهٔ مسعود روفی) اروپا ، صابر ، مجله ، شماره ۲۴ ، حمل ۱۳۷۷ مطابق اپریل ۱۹۹۸ .

(۱۵) سید مسعود پوهنیار ، ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد ، پشاور ، جلد دوم ، ص ۶

پایان

یوازې ازادی رسنۍ دي چې دولت له خپلو ستونزوڅخه خبرولای شي

نادر

کلـه چـې مونـږ د ډلـه ییـزو رسـنیو دازادی او دموکراسـی پـه ارتبـاط غـږیزو او وایـو چـې رسنیو تـه ازادی ورکـړل شـوی ده نـو پداسـی حـالا تـو کـی خپـل پـه خپلـه ددولـت دبیلابیلـو باصلاحیته ارګانونو لـه خـوا رسـنیوته دیکتـی، امر اویـا غـوښتنی پـای تـه رسـیږي داڅکـه چـې پداسـی حـالاتوکی درسـنیو پـه وړانـدی یـوازی اساسـی قـانون او درسـنیو قـوانین پـه مخکـی پریـوزی اورسـنی مجبـوری دی چـې دخپلـو خلکـو او ملـت ګټـی هـم پـه پـام کـې ونیسی.

زمـوږ هیـواد دتاریخ پـه ډیروسـختو شـرایطو او شـیبو کـی راغلـی دی چې له یـوی خـوا دمعلـوم الحالـه عناصـرو لـه خـوا تخریبونـه ، دبهرنیـو ځواکونـو اودولـت ضـد تبلیغـات اوجګـړی روانـی دی او هـره ورځ دوسـله والـو نښتـو وژنـو، نیونـو، تښتونـو او سـرپریکولو خبرونـه رارسـیږي او لـه بلـی خـوا پخپلـه ددولـت پـه دننـه اداروکـې فسـادونه اوبـی قـانونی او دبډواخیسـتل اوج تـه رسـیدونکی دی تمـایلات او ارتباطـاتو پـه ډیرشـدت سـره دقـانون مخـه ډب کړیـده د څلورونیمـو کلونـو پـدی اوږ ده مـوده کـې لـه پورتنیـو نیمګړتیـاوو سـره سـره نـوری زیـاتی نیمګړتیـاوی هـم وجـود پـه داسـی حـالاتو کـه چیـری پـه رسـنیو باندی فشـار راوړل شـی لـه یـوی خـوا بـه رسـینوته ورکـړل شـوی ازادی ترپښـو لاتـدی شـی او لـه بلـی خوابـه دواقعیتونـو پـه بـدلون او اړولـو سـره ددښمـن لپـاره ددی زمینـه برابـره شـی چې یـو اړخیـزه تبلیغـات دڅـان پـه ګټـه سـرته ورسـوی او پـدی توګـه بـه زمـوږ دخلکـو او امنیتـی ځواکونـو پـه روحیـاتو بانـدی نـاوړه اغیـزه وکړی او لـه بلـی خـوا بـه دخلکـو او ملـت هغـه هیلـی چـې لـه دولـت څخـه یـې لـری لـه خـاورو سـره بـه خاوری کیږی.

اصـل خبـره داده چـې رسـنی ددولـت او خلکـو تـرمنځ دیوپـل حیثیـت لـری رسـنی نـه یـوازی داچـې دخلکـو او دولـت تـرمنځ واټـن لـه منځـه نـه وړي بلکـی پراتـه واقعیتونـه هـم لـه نظـره نـه اچـوي. او دولـت هغـه وخـت دبـری سـرحدته رسـیږی او هغـه وخـت خلـك پـه غیـږ کـی نیـولی شـی چې درسنیو لـه خـوا واقعیتونـه پـه نظـر کـې ونیسـي دغوښتنـو او انتقـادونو دکیـدون پـه بـاره کـی حـق نظر وکړی او هغـه څـه چـې دملـت ځخـه دجـلا والـی کړښـه وباسی له منځه یوسی.

دولتـی رسـنی تـل هڅـه کـوی چـې ددولـت نسـبی بریـاوی او اجراآتـو تـه انعکـاس ورکـړی خـو هیڅکلـه ددولـت خالیګاووتـه ګوتـه نـه نیسـی پـه دولـت بانـدی لـه انتقـاد کولـو ځخـه ځـان ژغـورې. نوکـه چیری خپلی خبری سره را ټولی کړو وبـه وایـو چـې بایـد دولتـی هغـه چـاروا کی چـې پـه ازادو رسـنیو بانـدی دهغـوی داوسـنی لاری پـه نیولوسـره نیـوکی کـوی بایـد ددی پرځـای خپلـه ددولـت پـه بیلابیلـو اداروکـی داوسـنیو پرتونمګړتیـاوو دلـه منځـه وړلـو لپـاره خپلـه پاملرنـه واړوي او نـورهم بایـد ازادی رسـنی دخپلـو دنـدو داجـراء لپـاره وهڅـوی چـې دغـه رسـنی پـه حقیقـت کـی لـه دولـت سره مرسته کوی چې له پرتـو سـتونزو او دتخریبـی عناصـرو لـه کړنـواو حرکت څخـه یـی خبرکـړی کـه چیـری ازادی رسـنی نـه اوسـي نـه یـوازی داچـې دولـت دخپلـو سـتونزو پـه هکلـه نشـی پوهیـدلی بلکـی ددښمنـانو لـه حرکـت او نـاوړه هلـو ځلـو څخـه هـم بـی خبـره پاتی کیږی.

کرزی په یوه ځانګړی...

کرزي وویـل چې د ملکي او بـي ګنـاه انسـانانو د وژلو سره به مـو د ځان په ځپـر فکـر وي ،او ملکـي وګړو تـه بایـد زیـان وانـه ړول شـي ، بـل پلـو یـې پـه دغـه ځانګړې ناسته کې له امنیتي مسوولینو ځخه غوښتنه وکړه چې د سیمې لـه اوسـیدونکو مرسـته وغواړي ، تر څو د دولت د مخـالفینو او ترورېستانو پټې ځالې در په نښه کړې.

د ډنجوایي په ولسوالی...

د روفی په خبرو جګړه پدغـه ولسـوالی کـی هغـه مهال سخته شوه چې مخالفو وسله والو پـه ائتلافـی ځواکونـو باندی وسله واله حمله وکړه .

دائتلافـی ځواکونـو پـه یـوه اعلامیـه کـی چې دشـنبی پـه ورځ خپـر شوی راغلی چې دغره دفشـار پـه نامـه دعملیاتو له پیل څخه تراوسـه پـوری شاوخوا ۸۰ تنهـا ددولـت مخـالف وسله وال وژل شوی دی.

در زابل دو طالب...

بـه ګفتـه وی سـه تـن افـراد مظنـون نیـز از منطقـه کـلان خـان بـا سـه عـراده مـوتر سایکل بازداشت گردیده اند.

مقامـات امنیتـی ولایـت زابـل

گفته اند طالبان یـاد شـده بـه نام های ملا صالح محمد و ملا پیرمحمد اند که نا امنی هـای اخیـر آن ولایـت دسـت داشتند.

تقاضای ایجاد...

وی میگویـد عـودت آنـان درمدت یکسال ودوسال غیـر عملی است زیرا آنـان بیشتـر از دو دهـه را درآنجـا بسـر برده اند وبزودی ترک آنجـا برایشان مشکل خواهد بود.

سـخنان خورشـید احمـد

قصـوری وزیـر خارجـه پاکستان درپاسخ به اظهارات مکرر مقامات افغانستان مبنی بـر اینکـه پاکسـتان بـرای جلـوگیری از ورود هـراس افگنـان بـه افغانسـتان تـلاش کافی نمیکنند ابراز شده است

نشست مشترک...

نماینـده گـان کابـل درولسی جرګه با کلیات پیشنهادهای نماینده گان شورای ولایتـی موافقـه داشـتند

در نشست دیگراصلاحات بعمـل آمـده درقـانون شوراهای ولایتـی نهـایی شـود وبـه ولسـی جـرګه برای تصویب وقرار برین شـد تـا بعـداً ارایه گردد.

خدا خودش بهتر ...

حالا شمار دیگری از وزیران درکابینه تشریف دارنـد کـه بـه قـاش پیشـانی وابـروی رئـیس جمهـور مینګرنـد وکـاربزرګ وخلاقـی انجـام نمیدهنـد وشـاهد بـه ګـل نشستن کشتی ملت هستند! ازکی بایـد پرسیـد کـه چـرا ایـن وزیـران کـه برخـی از آنان به عنوان افراد شایسته درکرسی ها تکیـه زده انـد، بـه آقـای رئـیس جمهـور وطنپرسـتانه مشـوره نمـی دهند وبرای ملت دلسوزانه کار نمیکنند که ملت از شر این فسـاد و رشـوه رهـایی یابد.

برخی از مقام!ت با ماست مالی حقایق ازهمـه ناکرده ها دفاع میکننـد و مـردم را که از بیداد ادارات ورشـوه وفساد وسوء استفاده شـان به جان آمده انـد، بـه دروغ گویی واتهام متهم میسـازند و مثلاً ادعا میکنند که درین کشور کسی بیکـار نیسـت و همه چیز طبق معمول پـیش میـرود، نهایـت کـار ایـن آقایـان بـدام انـداختن مطبوعـات اسـت بـه اتهـام نادیـده گـرفتن ((منـافع ملی!))

ازین آقایان پرسیده میشود که آیا منافع ملـی همینسـت که باید بـرای گـرفتن یـک تـذکرهء تابعیـت دولـت جمهوری اسلامی افغانستان! چنـد صـدو یـا چنـد هـزار افغانی رشوه پرداخت؟ ویا برای یک نـان خشـک و یک کیلو بوره ازیکسال تـا سـال دیگـر دو تاسـه برابـر پول تادیه کرد؟ که قیمت آن بر اثـر مالیـهء ظالمانه اداره دولت بالا برده شده است.

قیمـت بـوره کـه درسـال ۱۳۸۱ (۱۵) افغـانی بـود حـالا بعـد از سـه سـال از برکـت مالیـه و محصـول وزارت مالیـه ۳۵ افغـانی شـده اسـت. همـین اسـت ((منافع ملی)) از نظر شما؟ وقتـی کسـی ازیـن ملـت بدینگونـه در ادارات دولـت چـور شـود او چـه گونـه بـه سخن آن آقای بالانشین که دو تالنـد کـروزز در زیـر پـایش قـرار دارد و چنـدین با دیگارد اسکورتش میکند چگونه اعتماد و باور خواهد کرد؟

بهـر صـورت، چـاره کارهـا شـعار دادن و مـوتر سـوار شـدن و پنهان از چشم مردم خزیـدن و معـاش چنـدین هزار دالری گرفتن نیست. بلکه به درد مردم رسیدن و درد مـردم را دوا کـردن اسـت، معلـوم نیسـت آقـای رئیس جمهور می داننـد کـه مـردم چـه مـی خواهنـد و مسـوولین شایسـته سـالار شان! چـه مـی کننـد یـا نـه؟ خدا خودش بهتر میداند!

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)

تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظـرهیـات تحـریـرانتشـار میبابـد

موسـس وصاحب امتیاز: حـاجی سیـد داؤد

مدیر مسوول : سهـــراب دیدار

اراده

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"

چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

قیمت یک شماره ۳ افغانی